# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


پیشگام
۰۷ جولای ۲۰۲۴

## د مېرمنو له شتون پرته، آزادي بخښونکي غورځنګونه بریا ته نه رسېږي

دموکراتیک غورځنګ، پرمختللی یون او مخکښ خوځښت د مېرمنو له شتون پرته د بریا امکان نلري. د یوې ټولنې پرمختګ او پرمختیا په هغه ټولنه کې د ښځو له ونډې کولای شوو وارزو. که چېرې مېرمنې د ټولنې په هره برخه، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او نورو میدانونو کې نه یوازې ونډه، بلکې د سرلاری او رهبری په کچه فعالې نه وي، نو هغه ټولنه کې نرواکي واکمنه او د ښځو په وړاندې له بېلابېلو ستمونو څخه هرومرو یو ستم په بېرحمی سره پلی کېږي.

په دې لیکنه کې هڅه کوو، چې د ښځو د زده کړو، پوهیایی، پیوستون او په ټولنه کې د هغوی د ونډې په برخه کې د امانې پېر لومړنیو، خو خورا مهمو هڅو ته اشاره وکړو. امانې پېر په حقیقت کې د یوې دموکراتیکې او سیکولارې ټولنې بنسټ کېښود. د همدې لپاره اسلامي بنسټپالان، د طالبانو او جهادیانو په ګډون له دې پېر څخه سخته کرکه او نفرت لري.

امان الله خان د افغانستان په تاریخ کې هغه لومړنی واکمن تېر شوی، چې د نورو اصلاحاتو تر څنګ،د ښځو د اسارت پای ته رسولو په پار یې ډېرې هلې ځلې کړې دي. هغه غوښتل چې ښځې د هېواد د نیمايي ځواک په توګه په ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او فرهنګی برخو کې خپل رول ولوبوي او هېواد د ترقی او پرمختګ په لور ودروموي.

که د امان الله خان د واکمنی شرایط په پام کې ونیسو او د هغه کړنې له هماغو شرایطو سره وارزو، نو دې پایلې ته رسېږو چې د نرواکۍ او مذهبي استبداد څخه د ښځو د خلاصون په پار د هغه کړنې او اقدامات ډېر مهم او ارزښتمن ول، ځکه د هغه په واکمنی کې د ښځو له حقونو سره پروژه ای او ابزاري او استعماري چلند نه کېدو او د هېواد مېرمنو د لومړي ځل لپاره د یو اغیزناک ځواک په توګه د ټولنې د پرمختګ پر درشل پښه ایښودله.

امان الله خان د ښځو د پرمختګ لپاره هر اقدام لومړی له خپلې مېرمنې او د خپلې کورنی له ښځینه غړو پیلو، ځکه هغه په ریښتنې توګه د ښځو د پوهیایي او ونډې په اهمیت پوهېدو او مېرمنې یې د ټولنې هغه نیمايي ځواک ګڼلې، چې باید د پرمختګ د څرخ تاوولو لپاره په ټولنه کې فعاله شتون ولري. هغه هیڅکله له مېرمنو سره ابزاري او دروغجن چلند نه درلود، څنګه چې جهادی بنسټپالانو او ځینو «دموکراتانو» او «تکنوکراتانو» د ښځو له حقونو سره بازاري، پروژه ای او سوداګریز چلند درلود او لا یې هم لري. په تېره بیا جهادی جنایتکارانو تل له مېرمنو سره ابزاري چلند درلودلی دی، دوی ان د خپلو مېرمنو په نوم اخیستلو باندې هم شرمېدل، خو همدا مکاره او حیله ګیره بسنټپالان به د

مارچ د اتمي پر ستيژ ودرېدل او نورو ښځو ته به يي په داسي حال کي د حقونو خبري کولی،چي خپلي ښځي به يي لکه ځارويو په کور ترلي وي.
د ښځو حقونو د تامينولو او له اسارت څخه د ژغورني په تړاو د امان الله خان هڅي، د ملکه ثريا او محمود طرزی له ملاتړ پرته ناممکني وې، په تېره بيا چي محمود طرزي په خپله د ښځو د حقونو په تړاو ليکني کولی او مېرمن او لورګاني يي د ښځو د حقونو په برخه کي فعالي وې.که څه هم امان الله خان د مذهبي استبداد او د سياسي ملايانو د تاوتريخوالي او بلواګانو تر فشار لاندې اړ شو، چي د ښځو د خلاصون او ژغورني ځيني برنامي وځنډوي او يا هم د فشارونو له وجي په ځينو مواردو کي د ملايانو ناسمو غوښتنو ته تسليم شي، خو په ټوليز ډول د مېرمنو د حقونو په ملاتړ د هغه هڅي، کوښښونه او هلي ځلي، په تېره بيا د اوسني شرايطو په پام کي نيولو سره چي يوځل بيا مذهبي فاشيستان د قدرت پر ګدی ناست دي، خورا اهميت درلود.
په دې ليکنه کي د اماني پېر هغه مهمو اقداماتو ته لنډه کتنه کوو، چي د ښځو د حقونو په پار لومړی ځل تر سره شول:

**د ښځو زده کړې:** امان الله خان په دې پوهېده چي له نرواکۍ او مذهبي استبداد څخه د ښځو د خلاصون لپاره لومړنی ګام د انجونو باسواده کول دي.هغه پوهېده چي د تور ګړنګونو څخه د ښځو رايستل او پر ځان متکي کول يوازي او يوازې د علم، پوهي او معارف په رڼا کيږي. همدا هم و چي د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۰ کال کي د «نظارت معارف» په نامه يوه اداره جوړه کړه، چي بيا ورپسي د «انجمن علميه» لخوا د ښځو درسي پروګرام پيل او د همدې کال په پای کي په افغانستان کي د لومړي ځل لپاره د انجونو لپاره د «مکتب مستورات» په نامه ښوونځی جوړ کړ، چي ملکه ثريا د «مفتشي» په توګه د دې ښوونځي چارې ځارلې.
د انجونو لپاره د دې ښوونځيو پرانيستل پر نرواکۍ او مذهبي استبداد يو لوی برید و. همدا هم و چي يو شمېر ملايانو د انجونو د مکتب او ښوونځي او په کل کي د هغوې د زده کړو مخالفت وکړ او دا کار يي د شريعت خلاف او کفر وګڼو. روحانيونو او ملايانو، چي د ارتجاع او ښکېلاک ملاتړ يي له ځان سره درلود، په دې پوهېدل چي د ښځو او انجونو پوهه به هغوې په داسي يو نهضت او غورځنګ بدل کړي چي ډېر ژر به د دوې مذهبي استبداد او هر ډول ربړه او ستم وننګوي.
د ښځو پوهېدل، آګاه کېدل او په خپلو حقونو ته رسېدل تر ټولو زيات نرواکۍ او مذهبي استبداد زيانمنوي، همدا هم و چي روحانيونو او مرتجع ملايانو د اعتراض، بلوا او مخالفتونو لړی پيل کړه. هغوې د دې بلواګانو په دوام د نورو غوښتنو تر څنګ، دا غوښتنه هم وکړه چي امان الله خان دې ملکه ثريا ته طلاق ورکړي او د محمود طرزي کورنی دي له افغانستان څخه وشړي. ملايان او روحانيون په دې پوهېدل چي د ملکه ثريا او د محمود طرزي کورنی د انجونو د زده کړو نه يوازې پلويان، بلکي په خپله د دې بهير هوډمنه مدافعين دي.
ملکه ثريا د انجونو ښوونځي، تعليم او زده کړه د ښځو د پوهي، اقتصادي خپلواکي او د کورنی د معيشت د بهتروالي لپاره مهم ګڼل. هغه په يو شاهي اعلاميه کي، چي د دې په لاسليک صادر شوی وه، په څرګند ډول ليکلي وو چي: له دې ښوونځيو څخه موخه له خاوندانو څخه د ښځو د اقتصادي وابستګی خلاصون او د کورنی له اقتصاد سره مرسته ده. ملکه ثريا په دې پوهېده چي اقتصادي خپلواکي، د نورو آزاديو بنسټ او اساس دی. نو د همدې لپاره يي پر دې مسئلي ډېر ټينګار کاوه. خو له بده مرغه روحانيونو او د سيمي له مرتجع ځواکونو سره تړلي ملايانو آرام نه درلود او د دې پيلامي پر ضد يي حرکتونه او اعتراضونه پيل کړل. امان الله خان دا ارتجاعي اعتراضونه وځپل او هغه ۵۳ مرتجعو کسانو ته، چي په اعدام محکوم شوي وو په خطاب کي وويل: ما مکاتب جوړ کړل، تاسي فکر کوئ چي دا

مکاتب ما د ځان لپاره جوړ کړي؟ ما هغه يوازې ستاسو د اولادونو لپاره خلاص کړل. تاسي وويل چې د انجونو تازه تاسيس ښوونځي وتړم، همداسي مي وکړل. اوس د ټولي دنيا علما ما ته ليکي، چې ښوونځي د انجونو لپاره يو اړين او حياتي کار دی.

امان الله خان نه يوازې د انجونو مکتبونه بېرته خلاص کړل، چې شمېر يې ورته هم زيات کړ او په دې توګه يې د ښځو د معارف ډيوه بله وساتله. خو د خادم دين رسول الله استبدادي واکمني دا ټول بهير وځپو. هغه خادم دين رسول الله چې اوس د ډېر شمېر معلوم الحاله «روڼاندو» اتل او قهرمان دی!!

د امان الله خان دا ګوزار دومره پياوړی و، چې ان څه باندې ۱۰۰ کاله وروسته هم د خادم دين رسول الله شاګردان لا آرام شوي نه دي او هغه لا په فحاشی تورنوي.د اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزير، مولوی ندا محمد له خپل اتل (خادم دين رسول الله) څخه په تقليد چيغي وهي:«دغه امان الله خان هغه څه وکړل چې ولاړئ پر غربيانو او کافرانو باندې وګرځېده، له هغه خوا يې دا فرموله راوړه چې ښځه ولي په کور کې ناستې دي، ښځې ولي مکتبو ته نه ځي، همدغه د عياشی، فحاشی نسخه يې راوړه، غوښتل يې په افغانستان کې عملي کړي. دغه قدرمن علما ورته په هغه وخت ودرې،دل چې دا درسره نه منم. دا له اسلام سره ټکر دی، دا له افغانيت سره ټکر دی. دا زموږ له غيرت سره ټکر دی.»

ربښتيا چې «تاريخ تکراريږي».نن مولوی ندا محمد طالبي هماغه څه وايي، چې سل کاله وړاندې د جهاديانو اتل حبيب الله کلکاني خادم دين رسول الله ويل.

**د ښځو پوهيايی او پيوستون:** امان الله خان باور درلود، چې ښځې د پوهيايي له لارې کولای شي لومړی خپل حقونه وپېژني او بيا د پيوستون له لارې د خپلو حقونو د لاسته راوړلو لپاره زيار او زحمت وباسي. د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره په اماني پېر کې د ښځو لپاره د ارشاد النسوان په نامه لومړنی نشريه د ۱۲۹۹ کال د کب په ۲۷ مه په کابل کي خپره شوه. په دې نشريه کې د ښځو د ورځنيو چارو تر څنګ، د ښځو د خپلواکی او آزادی په اړه هم مقالي خپرېدلی. د «زنان افغان زير فشار عنعنه و تجدد» د کتاب له مخي دې نشريې د ښځو پر اسارتبار وضعيت نيوکه او د ښځو د پيرولو او پلورلو پر ضد مبارزه کوله او هڅه يې دا وه چې ښځې له نرواکی ستم څخه وژغوري. له روښانتيايي چارو سره سم، د ښځو پيوستون ته اړتيا وه. په اماني پېر کې د دې پيوستون په پار لومړني ګامونه د «انجمن حمايت نسوان» په چوکاټ کې پورته شول. دې انجمن چې په لومړيو کې ۲۲ غړي درلودلي او د يو نيمه قضايي بنسټ په توګه يې د ښځو شکايتونو ته رسيدګي کوله، په ورته وخت کي يې هڅه کوله چې په تعليم، تحصيل، کار، ټولنيز ګډون او سياسي او مدني فعاليتونو کي د ښځو آزادي تامين کړي.

څنګه چې وويل شول دې انجمن، له نارينه وو څخه د ښځو بېلابېل شکايتونه، لکه د نفقي نه ورکړه، وهل ډبول او بی دليله طلاق ورکول تر ارزوني لاندې نيول او د همدې انجمن په هڅو د لومړي ځل لپاره افغان انجوني د طب او قابلګي په برخه کي ترکيه ته د زده کړو لپاره واستول شوې. که څه هم دا انجمن څه باندې ۱۰۰ کاله وړاندې جوړ شوی و، خو له اوسني انجمنونو څخه په ډېرو زښتو مواردو کي پرمختللی او مترقي و، د ترقي يو ځانګړی اړخ يې دا و چې د استعمار په زور او پيسو جوړ شوی نه و او د دې تر څنګ لکه د جهادي تنظيمونو د «اناثو» انجمنونو په څېر وروسته پاتې، ارتجاعي او د ښځو د آزادی او برابری مخالف نه يوازې چې نه و، بلکي د دې ارزښتونو لپاره يې عملي کارونه هم تر سره کړل.

**د مېرمنو انساني حيثيت اعاده کول:** امان الله خان،ملکه ثريا، محمود طرزي او نور همفکري او هم اندي يې په دې ښه پوهېدل چې تر ټولو لوېه مسئله چې بايد پر ضد يې مبارزه وکړي، هغه مېرمنو ته په ټيټه او سپکه سترګي کتل و. د افغانستان د وخت په ټولنه کې د مېرمنو انساني حيثت ځپل کېده او ان په ځينو سيمو کې د څارويو په وړاندې پلورل کېدلې. خو امان الله خان په ښکاره خلکو ته ويل چې ښځه هم ستاسو په شان يوه انسانه ده او خپل حقونه لري.

امان الله خان او ملکه ثريا د وخت شته شرايطو په پام کې نيولو سره هڅه وکړه چې برقع يا چادري، چې د ښځو د پرمختګ مخه يې نيوله، له مينځه ويسي او ښځې وکړای شي مخ لوڅې په ټولنه کې حضور پيدا کړي. هغوی دا کار د مېرمنو د انساني حيثيت لپاره زيات مهم ګڼلو. خو دې کار بيا هم د ملايانو مخالفت راوپارو، خو امان الله خان د ملايانو په ځواب کې وويل، که څه هم دې ملا نه دی خو دومره پوهيږي چې ستر د اسلام له مخې له غاړې نه ښکته بدن پټول دي.

امان الله خان په دې نظر و، چې مېرمنې دې چادري يا برقع نه په سر کوي او د سر پټولو لپاره دې ترکي ډوله دوه ټوکره وکاروي، خو په دې ټينګار سره چې  دا کار به اختياري وي نه جبري. همدا هم وه چې ملکه ثريا لومړنی افغانه مېرمنه وه، چې څادري يې لبری کړه او خپل مخ يې لوڅ کړ او په دې توګه يې د خپل انساني حيثيت لپاره لومړنی ګام واخيست او د نورو ښځو لپاره په يوې مثبتې بېلګې واوښته.

**په ټولنه کې د ښځو شتون:** اماني پېر کې هڅه کېدله، چې د افغانستان ميرمنې د ټولنې فعاله برخه شي او د ټولنې په پرمختګ کې خپل رول ولوبوي. د «زنان افغان زير فشار عنعنه و تجدد» کتاب له مخې، ملکه ثريا چې د ښځو په چارو کې ډېره فعاله وه، د دلکشا مانۍ په يوې ناستې کې ښځو ته وويل چې له نارينو سره په کارونو کې مساوي ونډه واخلئ، څرنګه چې نارينه د هېواد په پرمختګ کې کار کوي نو ښځې هم بايد د کور په ديوالونو کې محبوسې پاتې نشي. هغه ويل، څنګه چې په اروپا کې ښځې په فابريکو کې کار کوي، افغانې ميرمنې هم کولای شي په کارخانو او فابريکو او نورو برخو کې کار وکړي.

همدا دول امان الله خان باور درلود چې ښځې په خپلو کورونو کې د بنديانو په شان د خپلو مېړنو تر ظلم لاندې ژوند کوي او برقع د دوې د زده کړې په وړاندې يو ستر خنډ دی او دې کار ښځې له کار کولو څخه بی برخې او يوازې په خپلو خاوندانو متکې کړي دي. هغه له ښځو غوښتل چې په عامه تفريحي ځايونو کې دې وګرځي او په ورځنې ژوند کې دې ورګډې شي. د همدې لپاره يې د کابل هغه وخت ښاروالۍ ته امر وکړ چې د ښار د کونډو ليست برابر کړي تر څو داکونډې په روغتونونو او لابراتوارونو کې، چې نوي پرانيستل شوي وو، کار وکړای شي.

امان الله خان په دې پوهېدو چې په ټولنه کې د ښځو فعاله شتون د هېواد د پرمختګ لامل کېږي او د هېواد دا نيمايي وګړي کولای شي د نرسالارۍ له استبداد پرته په ټولنه کې خپل رغنده رول ولوبوي. همدا هم و چې په لومړي ځل امان الله خان په جرګو کې، چې د تصميم نېولو او پرېکړو مرکز و، د ښځو ګډون تامين کړ. د ۱۹۲۸ کال په لويې جرګې کې مېرمنو ګډون وکړ او په همدې جرګه کې کبرا سراج د امان الله خان خور د نورو مېرمنو په استازولۍ وينا وکړه. په همدې جرګه کې د ښځو حقوق د نارينه وو  له حقوقو سره مساوي اعلان شول. دا حرکت له تاريخي پلوه په داسې يو هېواد کې چې لا په ډېرو سيمو کې يې ښځې د څارويو سره مبادله کېدلې، يو لوی پرمختګ و.

د مېرمنو په تړاو د اماني پېر دا يو شمېر لاسته راوړني ښکاره کوي، چې يوازې هغه دولت کولای شي چې د ښځو انساني حقونه، د هغوې ونډه، په ټولنيز، سياسي، فرهنګي، اقتصادي او نورو برخو کې شتون تامين کړي، چې لومړی په رېښتوني مانا ملي وي، دويم دموکراتيکه ارزښتونه وپالي او دريم پر سيکولاريزم باور ولري.

هر هغه غورځنګ، چې په هغه کې مېرمنې پراخه حضور ونلري، اساسي ونډه ونلري او د غورځنګ د سرلارۍ برخه ونلري، د هغه غورځنګ بريا ناشونې ده. افغاني مېرمني د پيل په توګه  بايد پر هغه خط، چې امان الله خان او ملکه ثريا ترسيم کړی، پر مخ ودرومي. له تېروتنو يې ياد کړي او د هغوی په لاس اېښودل شوې بنسټ لاپياوړی کړي. ومو ليدل چې د مېرمنو په تړاو ښکېلاکي پروژو او جهادي نانځکبازيو څنګه زموږ د هېواد زيارکښې مېرمني د تورو تمبو شا ته کېنولي. څرګنده ده چې د مېرمنو د آزادی لاره نه د ښکېلاکي او «نړيوالي ټولنې» له پروژو تېريږي، نه د جهاديانو له سوء استفادې او نه هم د طالب له اسلام بازۍ. دا لاره له يوې ملي، دموکراتيکي او سېکولارې ټولني پيليږي او  په يوې برابرۍ، آزادۍ او له هر ډول ستم او بربريت څخه په پاکې ټولني کې لا خپل پرتم پيدا کوي.